# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| هنر و موسیقی | Arts & Music |
|---|---|



بســــــــــــــمل


۰٦ می ۲۰۱۱



# ددرانه استاد اولمیر اته ویشتم تلین لمانځو

## داستاد اولمیر اته ویشتم تلین راورسېد خوهیڅچا هم دهغه مظلوم یاد ونه کړ .

ګرانو لوستونکو!

داستاد په اړوند خپله لیکنه یو څه اوږدوم هیله ده چي په تاسو ونه غمیږي .

همدا اوس په جرمني کي د غرمي دولس بجي شوې زموږ غرمنی دمه (تفریح) پیل شوه خوماد تفریح کولواو دوډۍ خوړلو په ځای خپل لپ ټاپ په داسي حال کي راواخیست چي نا څاپي مي سترګو ته ګران استاد اولمیرودرېد خوږي او ملي سندرې یي یوه یوه زماپه ذهن راخوري شوې له ځان سره مي وویل دمي په لمړیوکي خو موږ هرکال داستاد تلینونه لمانځل دا سړ کال ولي متوجه نه شوو؟

له واره مي ټولي افغان ویبپاڼي له نظره تېري کړي خوزموږ دګران اومظلوم استادیاد هیڅچانه و نکې کړی .

مبایل تیلیفون مي راواخیست لمړی مي له استاد ګلزمان سره اړیکه ونیوه له سترې مه شي څخه وروسته مي ورته وویل چي استاذه د استاد اولمیر اته ویشتم تلین دی تاسو کوم څه په نظر کي نه لرئ؟

استادوویل :

زه خوبېګا شپه په خوست کي دچنارګل مشاعرې ته را بلل شوی یم چي کابل ته ولاړ شم غم به یي وخورم .

ما ورته وویل :

صبر چي زه د"اطلاعات اوکولتور" له معين ښاغلي غلام نبي فراهي سره اړيکه ونيسم چي هغه څه وايي.
فراهي صاحب ته مي تيليفون وکړکور يي آباد په ورين تندي يي زما هيله ومنله او وعده يي راکړه چي ستا له تيليفون څخه وروسته به فوراً زرين انځورته هدايت ورکړم چي داستاد اولمير لپاره همدانن خپرونه ترتيب کړي که نن نورمهم څه ونوسبا به خامخا داستاداولمير يادکوواو پخپله به هم داستاد اولمير قبر ته ګلان وروړم .

له "فراهي صاحب" سره مي په مننه خداى په اماني وکړه اودريم تيليفون مي بياهم استاد ګلزمان ته وروکړ هغه ته مي ډاډ ورکړ چي کار جوړ شو ته ځان کابل ته ورسوه او هلته به په ګډه داستاد اولمير لمانځنه وکړئ .

استاد ګلزمان ډېر زيات خوښ شو خبرې مو را لنډې کړې وېل ما ته څه امر خدمت؟

ما وېل :

استاذه کله دعا راته کوه .

استاد دومره ووېل چي الله پاک دې ګل ګلزار لره .

ما وېل:

امين .

څلورم تيليفون مي دآزادي راديوته وکړ هغوى ووېل چي زموږ کولتوري پروګرامونه له کابل څخه تنظيميږي موږ به ستاسو خبراوغوښتنه ور ورسوو.

پنځم تيليفون مي دبي بي سي راديوته وکړ دسپين تني دې کور آبادوي دکابل مسؤلين يي په يوه دقيقه کې را سره وصل کړل سبا به له خيره سره دپيلوزې په پروګرام کې داستاد اولمير ياد وکړو.

وروستي تيليفونونه مي خپلوملګرو ته وکړل هغوى څوک په کارکي وو څوک پيدا شول فيصله مو په دې وکړه چي همدا نن دماښام په اوو بجو ديو لنډه کي ماښامي په طرځ کي دګران استاد ياد وکړو.

خوږو هيواد والو!

باورمو وشه که زه په ننني دايوناڅاپي يوساعته سازماندهي کي پاته راغلى واى اوفراهي صاحب ډاډ نه واى راکړى نو سخت به خوابدى شوى وم خو له نيکه مرغه خبرو سور ونيو روحاً ارام او تبه مي برابره شوه .

له حوصلې، مينې او اخلاص څخه مو مننه کوم .

يوه اړينه يادونــــــــــــــــــــــــــــــه :
داچي له ښاغلي غلام نبي فراهي څخه مي مننه کړې داپه دې مانا نه ده چي زه دکابل له ګوډاګي اداري سره پخلا شوى يم يا خردوم رهين دا دايران ځانګړى اجنټ زما خوښيږي نه نه داسي نه ده هيله ده چي په مابدګمانه نه شئ زه دګران هيواد او ولس خپلواکي غواړم او دربنتيني ولسواکي پلوى يم .
پاته دى نه وي چي ښاغلي فراهي تيرځل هم ما ته دمثبت ځواب په راکولو داستاد ياد وکړ دقبرسر ته يي ګلان ورووړل او ديو افغان په حيث يي زموږ دګران استاداولمير يادکړى رهين وخوله څخه داتوقوع لرل لويه اشتباه ده ځکه مي له فراهي صاحب سره اړيکه ونيوه .

**دپښتوموسيقي دپياوړي استاد خداى ښېنلي استاد اولمير ژوندليك**

**زوکړه :**

**استاداولمير په۱۳۱۲لمريزکال دپېښورپه يوه متوسطه کورنى کي وزيږيد پلاريي سيداخان نوميده.**

**زده کړه :**

هغه لمړنی زده کړې ترځلورمه اونورې زده کړې یې ترلسم  تولګي پورې دپېښورپه(فریتر)نومي ښوونځي کې کړې دي .

## هنری ژوند یې :

هغه  ماشوم  و چې  موریې مړه شوه دمیرې لاس ته کښېناست، دګردون له ناخوالوسره  آن  لاله  هغه  وخته لاس او ګرېوان  و  هغه به   دژوند ترخي شپېې دهندي سندرو په زمزمه کولوتېرولې .

په لس کلنی کې یې دموسیقي مینه  دبدن  په رګ رګ کې وځغلېده ځکه  خو استادي ته هم پکې ورسېد.

په موسیقي کې یې لمړنی ښوونکی استاد جعفرنومېده.

استاد چې کله  د موسیقي نازنین  تال  ته  ور پورته  شو په  دې وخت کې یې پلاروفات  اوډژوندڅپې  یې لا پسې طوفاني شوې بیا استاد له  خپل تره سره اوسېده څه وخت وروسته  یې تره خپله لور هم ورته کوزده کړه.

تره یې دموسیقي مخالف نه و ځکه  خو یې بیاله سبزعلي سره شاګرد کړخودا یې ورته وېلي و چې  په رادیوکي به سندرې نه بولي .

سبزعلي  له استاد سره ډېرې خوارۍ وکړې   هغه یې  ډېرښه وروزه دسندرومینه وال یې ډېر زیات شول  په لاهورکې یې یو ډیرپه زړه  پورې کنسرت ورکړپه  دې کنسرت کې استاداولمیردومره  ښه وځلېدچې دکنسرت په جریان کې پخپله استاد سبزعلي ورڅخه  غوښتنه وکړه  څو ورسره  جوړه سندره  وبولي  استاد اولمیر  هم ګرم  راغلی و غبرګه  سندره یې ورسره وکړه  اونبغ په نېغه دپیښورله  رادیوڅخه خلکوداسندره واوریده دهغې سندرې مطلع وه (زړګی مې شو توتې توتې)تره یې چې خبرشونو استاد اولمیر یې له خپل کور څخه وشاړه .

استاد اولمیر له  خپل استاد څخه  هم خفه شوخوبیا یې هم له موسیقي څخه لاس وانه اخیست ولاړله ګلستان سره شاګرد اولاپسې  پیاوړی  شو.

استاد اولمیر  په۱۳۲۹ کال کې د۱۷کلو په  عمر دکوزې  پښتونخواله  ملـکانوسره  دګران  افغانستان  د استقلال جـشن لمانځلوپاره کابل ته  راغی کنسرت یې ورکړاوبیا د قبائیلو ریاست  ته وروپېژندل شو.

په کابل کې یې له ملنګ جان سره پېژندګلوي وشوه په هغه وخت کې ملنـګ جان  په افغانستان راډیوکي کارکاوه دی یې هم افغانستان  راډیو ته وروپېژاند.

هلته یې په سندرو پیل وکړاو دعمر تر پایه په کابل کې پاته شو.

له ملنګ جان  سره یې ملګرتیا لا پخه  شوه بیا دوی  دواړو ته یوشمېر پښـتو دښمنوعناصرو په  راډیـوکې یولړ ستونځې پیدا کړې اوله  راډیوڅخه  یې وشړل خویوڅه وخت وروسته بیا داستادنبـي ګل په مرسته استاداولمیربیا هم راډیوته ور پرېښودل شو.

هلته یې  له ۲۵۰ څخه  زیاتي سندرې ثبت شوې دي .

هغه لا استادي  ته نه  و رسېدلی خو خلکو به  په  ډېره مینه ورته استاد وېلې .

په۱۳۵۰لمریز کال کې د راډیوافغانســتان  دریاسـت   په رسمي غوښتنه اوداطلاعات اوکلتوروزارت  دمسلکي مجلس په تصویب  دپښتوموسیقي داستاد لقب ورکړشو.

هغه ډېرخاکساره سړی او په غړ کې یې خانګړی اثر پروت و.

له بده مرغه په ۱۳۵۹ کال کې زموږ ګران  استاداولمیر په یوه ترافیکي پېښه کې ټپي اود۱۳۶۱کال دغویي دمیاشتې په ۱۴نېټه  له موږ څخه وکوچېد استاد د شاه شهید په حدیره کې خـاورو ته وسپارل شو.

داستاد روح  دې ښـاد او تولوخواخوږو ته  دې الله پاک اجر او برى ورکړي

**یادونــــــــــــــــــــه :**

**موږ تر خپله وسه وسه دګران استاداولمیر یاد کړی هر کال مو دهغه تلینونه لمانځلي زموږ دپرله پسې لمانځنو په سبب په ځانګړې ډول په نړیوالو رادیو ګانو کې زموږ دهڅو له مخې نه یوازې داستاد قبر وموندل شوبلکې زموږ افغانې خور ملالۍ جویا پخپل لګښت داستاد قبر جوړ کړ چې موږ ورڅخه مننه کوو.**